# د افغانستان د لوړو زده کړو په پیاوړتیا کې د OBE رول او اوسنی حالت يې

**پوهنیار عبدالنعیم نعیم**

پښتو ادبیات څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځي، د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې، پکتیکا، افغانستان
ایمیل: abdulnaeembasheer@gmail.com

**لنډیز**

پر پایله ولاړې زده کړې چې په انګریزۍ کې ورته Outcome Based Education (OBE) وایی، د ډېرو پرمختللیو هېوادونو په پوهنتونو کې ترې د تحصیلي سیستم په حیث کار اخیستل کېږي. د دې څېړنې موخه دا ده چې د OBE ښوونیز سیستم تشریح او په پوهنتونونو کې د OBE په اړه د استادانو نظر او عمل معلوم کړي. پدې څېړنه کې د څېړنې ګډه(کمي او کیفي) تګلار کارول شوي چې د معلوماتو د راټولونې لپاره د پوښتنپاڼې او اسنادو (کورس پالیسیو) له تحلیل او تجزیې څخه کار اخیستل شوی. د څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې د OBE په اړه د پوهنتونو ډېری استادان مثبت نظر لري، مګر د ځینو ستونزو لکه: د مناسبو امکاناتو کمی، په ټولګیو کې د محصلینو د شمېر زیاتوالی، OBE ته د لوړو زده کړو وزارت نه پاملرنه او له OBE سره د استادانو نابلدتیا له کبله یې په خپلو پوهنتونو کې نشي پلې کولای.

**کلیدي اصطلاحات**: پر پایله ولاړې زده کړې(OBE)؛ زده کړه ییزې پایلې؛ د استادانو نظر؛ د استادانو عمل؛ د OBE پر وړاندې خنډونه

# The Role of OBE in Strengthening the Education System of Afghanistan and Its Current Situation

**Jr. Teaching Asstt. Abdul Naeem Naeem**

Department of Pashto, Faculty of Education, Paktika Higher Education Institute, Paktika, Afghanistan
Email: abdulnaeembasheer@gmail.com

## Abstract

Outcome-based education (OBE) is a prevalent educational system in many developed countries' universities. This study aims to elucidate the principles of OBE and examine the perceptions and practices of Afghan university lecturers regarding its implementation. Utilizing a mixed research approach, this study employed questionnaires and document analysis (course policies) as data collection tools. The research findings reveal that most university lecturers harbor a positive view of OBE, acknowledging its efficacy as an educational system within their institutions. However, several challenges hinder its seamless adoption, including inadequate facilities, overcrowded classrooms, limited attention to OBE by the Ministry of Higher Education, lecturers' unfamiliarity with OBE principles, and other factors. These impediments pose significant obstacles to the full realization of OBE in the Afghan higher education landscape.

**Keywords**: Outcome Based Education (OBE); Learning Outcome; Lecturers' Perception; Practice; OBE Challenges

**سریزه**

پر پایله ولاړه زده کړه یو داسي ښوونیز سیستم دی چې د نړۍ په زیاتره پرمختللو هېوادونو کې عملي کېږي او ښه پایله یې لرلې ده. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت هڅه کړې ده چې د هېواد په پوهنتونونو کې د مسلکي پرمختیا د مرکزونو په جوړولو سره د استادانو او اداري کارکوونکو مسلکي وړتیاوې لوړې کړي. یوه له دغو مسلکي وړتیاوو څخه د OBE سیستم عملي کول دي، چې د افغانستان لوړې زده کړې پیاوړې شي. دې ټکي ته د لوړو زده کړو وزارت په خپل ستراتیژیک پلان کې داسې اشاره کړې ده: "د لوړو زده کړو مؤسسو د مسلکي پراختیا مرکزونه کولای شي د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د پرله پسې مسلکي پرمختګ په چمتو کولو کې مهم رول ولوبوي لکه د پایلو پر بنسټ زده کړې، محصل چورلیزې(محصل محورې) زده کړې، په لوړو زده کړو کې د معلوماتي ټکنالوجۍ کارونه، محصلانو ته مشوره ورکول، نرم مهارتونه (بشري اړیکې، ټیم جوړوونه، د نظرونو څرګندول...) ارزونې او څېړنچارې(څېړنې میتودونه)" (NHESP, 2016. P: 21).

OBE یو داسي ښوونیز سیستم دی چې، لومړی د هغه څه یو روښانه انځور کاږي چې محصلین یې باید د یوې زده کړه ییزې پروسې په پای کې په سر ته رسولو قادر شي، بیا د دې انځور په رڼا کې د تدریس او زده کړو طریقې ټاکل کېږي او په پای کې ټاکل شوی تصویر په مناسبه طریقه ارزوي او ګوري چې زده کړه شوې که نه. پدې سیستم کې درې بنسټي عنصرونه په نظر کې نیول کېږي: زده کړه ییزه پایله (نتیجه)، د زده کړې او تدریس طریقه او ارزونه (Spady, 1994) اوسمهال نوموړی ښوونیز سیستم په امریکا، برېتانیا، استرالیا، نوی زیلانډ، مالیزیا، سویلي افریقا، فلیپین او تقریباً له (۴۷) څخه په زیاتو هېوادو کې پلي کېږي(Tam, 2014).

که څه هم چې، د لوړو زده کړو وزارت غواړي په پوهنتونو کې OBE عملي شي مګر تر دې مهاله د افغانستان په تحصلي مرکزونو کې OBE سیستم په لومړنیو پړاوونو کې دی، نو ځکه مې مناسبه وګڼله چې د افغانستان د لوړو زده کړو په پیاوړتیا کې د OBE رول او اوسنی حالت یې پدې مقاله کې ځای پر ځای او وښایم چې د افغانستان د پوهنتونونو استادان د OBE په اړه څه نظر لري او تر کومې کچې یې په خپل تدریس کې عملي کوي. همدارنګه، پدې څېړنه کې دا هم معلومېږي چې استادان د OBE د عملي کولو په وخت کې له کومو خنډونو او ګواښونو سره مخ دي. د دې خنډونو پېژندنه به له پالیسي جوړوونکو سره مرسته وکړي چې په راتلونکي کې یې له منځه یوسي او د OBE د عملي کېدلو لپاره لار هواره شي. په پایله کې به ټول محصلین په خپلو رشتو او څانګو کې داسې پوهه او مهارت ترلاسه

کړای شي چې په ورځني ژوند کې خپلې ټولنې او خلکو ته د خدمت جوګه شي. د دې څېړنې ارزښت پدې کې دی چې د افغانستان د پوهنتونونو د ښوونیز سیستم د کیفیت له ښه کېدو سره مرسته کوي.

پدې څېړنیزه مقاله کې به دې څېړنیزو پوښتنو ته ځوابونه پیدا شي: ۱. د OBE ښوونیز سیستم په اړه د پوهنتونونو استادان څه نظر لري او تر کومې کچې یې په خپلو پوهنتونو کې عملي کوي؟ ۲. د استادانو له نظره څه شی د OBE د عملي کېدو پر وړاندې خنډونه څه دي؟

## د څېړنې شالید

د ښوونې او روزنې پوهانو OBE سیستم په مختلفو شکلونو تعریف کړې دی. ویلیم سپیډي چې د OBE پلار بلل کیږي OBE داسي تعریفوي «د ښوونې او روزنې د تنظیم لپاره یو داسي شامل او هر اړخیز ښوونیز سیستم دی چې له هر زده کوونکي څخه د زده کړییزو غوښتونو بریالۍ څرګندونه غواړي» (Spady, 1994). په OBE ښوونیز سیستم کې درې موارد مخکــې له مخکې ټاکل کېــږي: ۱. هغه کړنې چې تمه یې کېږي- هغه څه چې زده کوونکي یې په پای کې د ترسره کولو وړتیا پیدا کوي، ۲. هغه شرطونه چې متوقعه کړنې پکې ترسره کېږي. پدې برخه کې تدریسي ستراتیژۍ او د تدریس فعالیتونه شاملیږي او ۳. د کیفیت ارزونې لپاره معیارونه. په OBE کې د زده کړه ییز پروګرام ارزونه او د زده کوونکو لاسته راوړنې له ټاکل شویو معیارونو سره مقایسه کیږي (Killen, 2000).

## د OBE څلور بنسټیي اصول

دا اصول د OBE زړه بلل کیږي او هغه شرطونه غښتلي کوي چې استاد او محصل بري ته رسوي؛

۱. د تمرکز څرګندوالی، تمرکز پر هغو پایلو وي چې محصلان یې د تحصیلي دورې په پای کې په کولو قادر کیږي.

۲. ډیر فرصتونه، محصلانو ته د زده کړې له یوه څخه زیات‌فرصتونه ورکړل شي، چې بریا ته ورسیږي.

۳ . لوړ توقعات، چیلنجونه هغې درجې ته لوړ کړل شي چې په ترسره کولو سره یې محصلین د منلو وړ معیارونو ته ورسول شي.

۴. نصاب جوړوونه، نصاب او ښوونیزو فعالیتونه د محصلانو د متوقعه چلن پر بنسټ جوړ شي (Spady, 1994).

## په OBE کې زده کړه ییزې پایلې

زده کړه ییزه پایله هغه بیانیه ده چې د زده کوونکو پکې هغه پوهه یا عمل، چې د یوې زده کړه ییزې پروسې په پای کې یې په څرګندولو قادر کیږي؛ واضح شوي وي (Spady, 1994). لیکې: پایلې د زده کوونکو باورونه، احساسات، یاد ته سپارل، پوهه، پوهېدل او داسي نور نه دي، البته دا هرڅه ذهني

جریانونه دي او د زده کړې ښکاره څرګندونه نشي کولای. بلکې، پایلې هغه څه دي چې زده کوونکي یې د خپلې پوهې او پوهېدلو په رڼا کې په عمل کې ترسره کړای شي.

زده کړه ییزې پایلېد یوې زده کړه ییزې پروسې په مختلفو برخو کې ټاکل کیږي(Shuaib, et.al, 2009).

د له نظره په OBE ښوونیز سیستم کې درې ډوله پایلې ټاکل کېږي: ۱. د برنامې ښوونیزه پایله، ۲. د پروګرام پایلې او ۳. د کورس/ مضمون پایلې. په لاندې برخه کې یې هره یوه واضح کوو:

۱. د پروګرام ښوونیزه پایله (Program Educational Outcome)

د پروګرام ښوونیزه پایله چې په ځینو کتابونو کې یې د پروګرام د ښوونیزو موخو (Program Educational Objective) په نوم هم لیکي د پروګرام هغه پایلې یا موخې دي چې د اوږد مهال لپاره ټاکل کېږي. یا په بل عبارت د یو پروګرام ښوونیزه پایله د پروګرام هغه عمومي او اوږد مهاله پایلې دي چې فارغان یې له فارغیدو څخه څلور یا پنځه کاله وروسته په ټولنیز ژوند کې ښکاره کوي.

۲. د پروګرام پایله یا د لیسانس دورې پایله (Program Outcome)

د پروګرام پایله دیوې زده کړه ییزې دورې په بشپړیدو سره هغه وړتیاوې/ ځانګړتیاوې او کوایف (پوهه، مهارتونه او ځانګړنې) راښیي چې فارغان د نوموړې دورې د بشپړولو په وخت کې ترلاسه کوي.

۳. د مضمون زده کړه ییزه پایله (Course Learning Outcome)

د دې لپاره چې محصل په OBE کې یو کورس په بري سره بشپړ کړي، هغه باید دکورس اړونده ټاکل شوي زده کړه ییزه پایله ترلاسه کړي. په همدې اساس ټول کورسونه باید روښانه او واضح زده کړه ییزې پایلې ولري.

**د OBE د عملي کېدو مراحل**

د OBE د عملي کېدو د مراحلو له توضیحاتو تېرېږو، یوازې یې په شکل کې ښیو.




لومړی انځور: د OBE د عملي کولو تګلاره

## پخوانۍ څېړنې او موندنې يې

که څه هم چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په ټولو تحصیلي مرکزونو کې د OBE تطبیق ته ژمن دی او د تحصیلي مرکزونو زیاتره استادانو ته یې د OBE روزنیز ورکشاپونه دائر کړي دي. له دې هڅو سره، سره په افغانستان کې تر اوسه پورې د OBE اړوند یوازې درې علمي څېړنې ترسره شوې دي. لومړی یوه یې علیمیار په (۲۰۲۰) میلادي کال کې ترسره کړې ده، دویمه یې په (2021) کال کې سید اسیف اکرمي ترسره کړې ده، دریمه یې هم رحمت الله کتوازي په ( ۲۰۲۱) کال کې د لوړو زده کړو پراختیایي پروګرام (HEDP) په مالي مرسته ترسره کړې ده. د OBE په اړه د استادانو نظر او عمل تر سرلیک لاندې تر دې مهاله په افغانستان کې هیڅ علمي څېړنه نه ده شوې.

پدې برخه کې یوازې د رحمت الله کتوازي څېړنه یوڅه تشریح کوم. نوموړې خپله څېړنه کې د بیلابېلو پوهنتونونو له (۱۲۰) استادانو څخه د پوښتنپاڼې پواسطه د نظر اخیستنې او له اووه تنو د OBE ماهرو استادانو سره د مرکو له لارې کړې ده. د دې څېړنې عنوان "په افغان پوهنتونو کې د OBE-SCL تطبیق: اوسنی عمل او ګواښونه" دی. پدې څېړنه کې د څېړونکې موخه دا وه چې په وروستیو کې د افغانستان په ښوونیز سیستم کې د تحولاتو په برخه کې د پوهنتونو د استادانو انګېرنه معلومه کړي. پدې څېړنه کې څېړونکې دې پایلې ته رسېدلی ده چې استادان د OBE تطبیقولو لپاره مثبت نظر لري او ان تر دې چې د نوموړي سیستم عملي کېدو ته لېوال دي. مګر ځیني داسي استادان هم شته چې د OBE د عملي

کولو په برخه کې منفي نظر لري او د OBE عملي کېدل ورته يوه افسانه ښکاري. د څېړونکي په وينا دوی کېدای شي هغه استادان وي چې د OBE اړوند کوم روزنيز ورکشاپ يې ندی اخيستی. له بل پلوه، څېړونکی دې پايلې ته هم رسېدلی چې د OBE د عملي کولو په برخه کې استادان په ډېره ټيټه کچه کې قرار لري. همدارنګه، څېړونکی د خپلو موندنو پر بنسټ ليکي چې په اوسني وضعيت کې د منځپانګې پر بنسټ نصاب، د تدريس، زده کړې او ارزونې پاليسيانې، د ودانيو او علمي سرچينو کمبود، د امکاناتو کمبود او په استادانو زيات کاري فشار هغه کليدي ګواښونه دي چې د OBE د عملي کېدو مخنيوی کوي.

**څېړندود**

د دې څېړنې تګلاره ګډه(کمي او کيفي) ده. د Creswell (2014) له نظره که غواړو چې يوه څېړنيزه موضوع په ژوره توګه تر مطالعې لاندې ونيسو بايد مختلطه تګلاره وکاروو. دا څېړنه د سروې په شکل ترسره شوې ده، چې سروې پخپله د کمي تګلارې يو ډول ده او د يوې ټولنيزې پېښې مختلف اړخونه اندازه کوي (Cohen, et.al, 2012). دې څېړنې ته د معلوماتو د راټولولو لپاره د پوښتنپاڼې او اسنادو د تحليل مېتودونه کارول شوي دي. د پکتيا او پکتيکا پوهنتونونو د مختلفو پوهنځيو څخه يې (۷۱) تنه استادانو پوښتنپاڼې ځواب کړې دي او نورو يې د پوښتنپاڼو ځوابولو ته لېوالتيا نه ده ښودلې. د پوښتنپاڼو ترڅنګ، د اسنادو تحليل چې د کيفي څېړنې يوه تګلاره ده او په هغه کې يو څېړونکی د اسنادو د ارزونې موضوع ته مانا ورکوي؛ کارول شوې ده او (Bowen, 2009) ليکي چې د اسنادو تحليل په کيفي څېړنه کې ترسره کېږي. د استادانو (۲۹)کورس پاليسيانې تحليل او تجزيه شوې دي. پوښتنپاڼه ځکه انتخاب شوې ده چې د دې په واسطه به له استادانو څخه زيات معلومات په کم وخت کې راټول شي. د دې ترڅنګ، د کورس پاليسيو تحليل او تجزيه ځکه انتخاب شوی چې د OBE په اړه د استادانو عملي کړنې معلومي کړای شي.

د دې څېړنې لپاره د پکتيا او پکتيکا پوهنتونونه ځکه انتخاب شوي دي چې څېړونکې ته تر نورو ټولو پوهنتونونو نژدې او پدې دواړو پوهنتونونو کې تقريباً هر ډول پوهنځي شته چې، د څېړنې نتيجې ته د افغانستان د پوهنتونو په کچه نسبتاً تعميم ورکولای شو. د دې څېړنې لپاره معلومات د (۱۴۰۰)کال د ژمي په دريو مياشتو کې راټول شوي دي.

**د څېړنې موندنې او مناقشه**

دا برخه په دوو فرعي برخو وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې ټول هغه معلومات چې له پوښتنپاڼو څخه ترلاسه شوي دي ذکر کېږي او په دويمه برخه کې د استادانو د کورس پاليسيو له تحليل او تجزيې څخه د OBE اړوند عملي کړنو معلومات راخيستل شوي دي ځای پرځای کېږي.

## لومړۍ برخه، د پوښتنپاڼو پواسطه راټول شوي معلومات- کمي موندنې

لومړی جدول: د OBE د بنسټیزو څلورو اصولو په اړه د استادانو نظر

| د OBEد بنسټیزو څلورو اصولو په اړه د استادانو نظر (٪) | | | |
|---|---|---|---|
| | پوښتنې | ځوابونه | |
| ۱ | د تدریس په وخت کې ستاسو او ستاسو د محصلینو اصلي تمرکز پر څه شي وي؟ | پر محتوا (۲۸) | پر زده کړه ییزه پایله(۷۲) |
| ۲ | د تدریس لپاره کوم ډول تګلاره کاروې! | د ټولو محصلینو لپاره یو ډول تدریس (۳۹) | د محصلینو سویې ته په کتو له هغوی سره ځانګړې مرسته کېږي (۶۱) |
| ۳ | له خپلو محصلانو څخه څه ډول توقع لرې؟ | ټول به متوقعه پایلو ته ونشي رسېدلای (۳۱) | ټول به متوقعه پایلو ته ورسېږي (۶۹) |
| ۴ | د مضمون د تدریسي کتاب یا چپټر د مفرداتو ترتیبولو لپاره څه شی معیار کنې؟ | د وزارت د نصاب مفردات (۹۲) | ټاکل شوې زده کړه ییزې پایلې (۸) |
| | **ټوله فیصدي** | **۴۸** | **۵۲** |

دویم جدول: د ارزونې د عملي کولو په اړه د استادانو نظر

| د ارزونې د عملي کولو په اړه د استادانو نظر (٪) | | |
|---|---|---|
| د محصلینو د ارزونې په برخه کې د هغوی د کامیابي لپاره څه شی معیار او شرایط ګڼئ؟ | د محتوا او مفرداتو زده کړه (۳۸) | د زده کړه ییزو پایلو لاسته راوړل (۶۲) |
| د محصلینو د ارزونې لپاره نمرې د کوم معیار پواسطه ورکوئ؟ | د وزارت د لایحې مطابق (۷۰) | د لایحې خلاف د دوی کارونو ته هم نمرې ورکوم (۳۰) |
| د محصلینو د ارزونې په وخت کې څه شي په نظر کې نیسئ؟ | پوهه او مهارت (۷۷) | پوهه، مهارت او اخلاق (۲۳) |
| **ټوله فیصدي** | **۶۲** | **۳۸** |




لومړی ګراف: د استادانو له نظره د OBE د عملي کېدو پر وړاندې خنډونه

## د OBE د بیلابیلو عناصرو سره د استادانو د نظر د موافقې کچه

په لاندې برخه کې د OBE له مختلفو عناصرو سره د استادانو د نظر د موافقې کچه په پنځو درجو کې ښودل شوې ده چې د هرې درجې (بشپړ مخالف، مخالف، نظر نه لرم، موافق او بشپړ موافق) اړوند د استادانو د نظر فیصدې په اړوند خانو کې ځای پر ځای شوې ده.

له ۳ جدول څخه څرګندېږي چې، د OBE له کلیاتو او بیلابېلو عناصرو سره له (۸۰٪) څخه زیات استادان د موافقې نظر لري، (۱۱٪) استادان د دې مواردو په اړه هېڅ نظر نه لري او یوازې (٦٪) استادان د دې مواردو په اړه منفي نظر لري. پدې ټولو مواردو کې له شپږم او اووم مورد سره د استادانو د نظر د موافقې کچه تر (۵۰٪) پورې رسېږي او په نورو ټولو مواردو کې د استادانو د نظر د موافقې کچه له (۸۰٪) څخه پورته ده.

درېیم جدول: د OBE د کلیاتو په اړه د استادانو د نظر د موافقې کچه

| **د OBE د کلیاتو په اړه د استادانو نظر (٪)** | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شمیره | **موارد** | **بشپړ مخالف** | **مخالف** | **نظر نه لرم** | **موافق** | **بشپړ موافق** |
| ۱ | د OBE په عملي کولو سره کولای شو محصلان د کاري ساحې لپاره ښه چمتو کړو. | ۰ | ۱ | ٦ | ۵۸ | ۳۵ |
| ۲ | د زده کړې لپاره د OBE په تګلاره کې د محصلینو د کامیابي چانس زیاتیږي. | ۰ | ۱ | ٦ | ۵۲ | ۴۱ |
| ۳ | OBE عملي کول د محصلینو ظرفیت او مهارتونه قوي کوي. | ۰ | ۰ | ۸ | ۴۲ | ۴۹ |
| ۴ | په OBE کې استاد باید اسانچاری وي نه لکچر ورکوونکی. | ۳ | ۳ | ۱۴ | ۳۲ | ۴۸ |
| ۵ | د OBE په عملي کېدلو کې له ګډونوالوسره اړیکه او معلومات شریکول اړین دي. | ۰ | ۰ | ۲۱ | ۵۹ | ۲۰ |
| ٦ | زمونږ په پوهنتون کې د OBE تطبیقول ډېر سخت او مشکل کار دی. | ۱ | ۲۷ | ۲۱ | ۳۷ | ۱۴ |
| ۷ | محصلین کولای شي په نصاب کې موجود ټول مفردات زده کړي. | ۷ | ۲۷ | ۱۸ | ۴۵ | ۳ |
| ۸ | په نصاب کې باید د محصلینو لپاره متوقعه زده کړه ییزې پایلې(محصل دې په اخر کې د څه شي په کولو قادر شي) مشخصې شوې وي. | ۰ | ۱ | ۱۷ | ۵۹ | ۲۳ |
| ۹ | د نصاب لپاره د زده کړه ییزو موخو بنسټ او اساس باید د ټولنې اړتیاوې و اوسي. | ۱ | ۰ | ۳ | ۴۹ | ۴٦ |
| ۱۰ | د نصاب پراختیا باید یوه روانه او جاري پروسه و اوسي. | ۰ | ۱ | ۴ | ۳۲ | ٦۲ |
| ۱۱ | هر مضمون باید د نصاب لاربښود ولري چې په هغه کې د مضمون زده کړه ییزې پایلې(محصل دې د څه شي په کولو قادر شي) مشخصې شوي وي. | ۰ | ۱ | ۷ | ۵۱ | ۴۱ |
| | **ټوله فیصدي** | ۱ | ٦ | ۱۱ | ۴۷ | ۳۵ |

## دویمه برخه، له کورس پالیسیو څخه راټول شوي معلومات - کیفي موندنې

د استادانو په (۲۹) کورس پالیسیو کې د OBE بنسټیز عناصر، د تدریس کړنلاره او د ارزونې میتودونه کتل شوي دي.

لومړی، د OBE بنسټیز عناصر

څلورم جدول: په کورس پالیسیو کې د OBE د بنسټیزو عناصرو موجودیت

| شماره | بنسټیز عناصر | شتون (٪) | لري | شتون نه لري (٪) |
|---|---|---|---|---|
| | د لیسانس دورې زده کړه ییزې پایلې (POs) | ۱۰ | | ۹۰ |
| | د مضمون زده کړه ییزې پایلې (COs) | ۷۹ | | ۲۱ |
| | د لیسانس دورې زده کړه ییزو پایلو او مضمون زده کړه ییزو پایلو ترمنځ تړاو په نظر کې نیول | ۱۰ | | ۹۰ |

پنځم جدول: په کورس پالیسیو کې د مضمون د زده کړه ییزو پایلو ډولونه

| د مضمون د زده کړه ییزو پایلو ډول | کمزوري(٪) | ښه (٪) | ډېره ښه(٪) |
|---|---|---|---|
| د مضمون د پایلو د ډولونو فیصدي | ۸۱ | ۱۴ | ۵ |

دویمه، د تدریس تګلاره او د تدریس میتودونه

شپږم جدول: په کورس پالیسیو کې د تدریس میتودونه

| د تدریس میتودونه | لکچر | ګروپي کار | سوال- ځواب | عملي کار | جوړه یي کار | موضوع ارایه کول | مناقشه | د موضوع لنډيز | TPS |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د موجودیت فیصدي | ۱۰۰ | ۸۳ | ۴۸ | ۳۸ | ۳۸ | ۳۴ | ۳۱ | ۱۴ | ۷ |

درېیم، د محصلینو ارزونه

اووم جدول: محصلینو ته د نمرو ورکول تګلاره

| محصلینو ته د نمرو ورکولو طریقه چې آیا د وزارت د لایحې مطابق دی او که د OBE له اصولو سره سم؟ | د وزارت د لایحې مطابق | د OBEله اصولو سره سم |
|---|---|---|
| | ۸۶ | ۱۴ |

**مناقشه**

د څېړنې پوښتنو په نظر کې نیولو سره د دې څېړنې موندنې په لاندې درېو برخو کې بحث او مناقشه شوې دي:

۱. د OBE په اړه د پکتیا او پکتیکا پوهنتونو استادان څه نظر لري؟

د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې د پکتیا او پکتیکا پوهنتونو ډېری استادان د OBE د بنسټیزو عناصرو څخه ځان خبر بولي، د دوی له جملې څخه یې نیمایي پدې نظر دي چې باید د OBE څلور بنسټیز اصول په پام کې ونیول شي. د استادانو له جملې څخه یې له (۸۰٪) څخه زیات په ښوونیز سیستم کې د OBE د بنسټیزو عناصرو او کلیاتو په اړه مثبت نظر لري. لدې موندنو څخه معلومېږي چې په عمومي ډول اکثره استادان د OBE د ټولو عناصرو او کړنلارو په اړه مثبت نظر لري او OBE په خپلو

پوهنتونو کې د یوه مؤثر ښوونیز سیستم په حیث قبلوي. دا موندنې له دوو هغو څېړنو سره چې په دې برخه کې د (Alimyar, 2020) او (Katawazai, 2021) له لوري ترسره شوې دي همغږې دي. دوی هم په خپلو څېړنو کې دې نتیجې ته رسېدلیوو چې عموماً استادان د OBE د پلي کولو لپاره خوشبینه دي او په اړه یې مثبت نظر لري.

۲. استادان تر کومې کچې OBE په خپلو پوهنتونو کې عملي کوي؟

د استادانو له کورس پالیسیو څخه د راټول شویو معلوماتو څخه څرګندیږي چې د پکتیا او پکتیکا پوهنتونو استادان تر اوسه پوري د OBE د عملي کولو په برخه کې په ټیټه کتګورۍ کې قرار لري. د (Spady, 1994) له نظره چې د OBE د عملي کولو لپاره له ماموریت څخه وروسته دویم مهم عنصر د زده کړه ییزې لپاره د روښانه پایلو درلودل دي. مګر د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندیږي چې، (۹۰٪) استادان په خپلو کورس پالیسیو کې د لیسانس دورې زده کړه ییزې پایلې نه لري. همدارنګه لیدل کیږي چې یوازې (۱۰٪) استادان د زده کړه ییزې دورې زده کړه ییزو پایلو او د مضمون د زده کړه ییزو پایلو ترمنځ تړاو په پام کې نیسي. دې ستونزې ته (Katawazai, 2021) هم په خپله څېړنه کې اشاره کړې ده او لیکي چې ډېر کم شمېر استادان د زده کړه ییزو پایلو (د پروګرام زده کړه ییزو پایلو او د مضمون زده کړه ییزو پایلو) ترمنځ تړاو په نظر کې نیسي. (Tshai et al, 2014) په خپله څېړنه کې لیکي چې د OBE د عملي کولو لپاره د زده کړه ییزې دورې پایلې ټاکل، په نظر کې نیول او په هغو پوهېدل یو مهم اصل دی. مګر ډېر کم استادان دا اصل په نظر کې نیسي. دا پدې معنی ده چې ډېری استادان تر اوسه پوري د OBE بنسټیز عناصر هم په کمه اندازه عملي کوي.

ډېری استادان (۷۹٪) که څه هم د مضمون زده کړه ییزې پایلې په خپلو کورس پالیسیو کې ځای پرځای کوي. مګر، د دغو پایلو له جملې څخه یې زیاتره (۸۱٪) زده کړه ییزې پایلې په غیر معیاري ډول ټاکل شوې دي. غیر معیاري پدې معنی چې پدې زده کړه ییزو پایلو کې هېڅ رفتاري فعل وجود نه لري. مثلاً، محصلین به پدې موضوع وپوهیږي. پدې پایله کې وپوهیږي فعل کارول شوی چې رفتاري فعل نه دی. (۱۴٪) استادانو په کمزورې شکل پایلې ټاکلې دي. کمزورې پدې معنا چې پدې ډول زده کړه ییزو پایلو کې رفتاري فعل موجود دی مګر شرایط او د زده کړې درجه پکې موجوده نه ده. مثلاً، محصلین به موضوع تشریح کړای شي. پدې پایله کې (تشریح کړای شي) یو چلني فعل دی، مګر پدې پایله کې دا ندي ذکر شوی چې محصلین به د کومو شرایطو په پوره کولو سره موضوع څه ډول تشریح کړای شي. د زده کړه ییزو پایلو له جملې څخه یوازې (۵٪) یې له څلورو معیارونو سره سمې پایلې ټاکل شوې دي.

د تدريس استراتيژي او ميتودونو په برخه کې معلومېږي چې، تراوسه پوري د استادانو په منځ کې د ليکچر ميتود تر نورو ټولو ميتودونو زيات کارول کېږي. حال دا چې محصل-محوري ميتودونه لکه: جوړه يي کار، موضوع ارايه کول، مناقشه، موضوع لنډيز کول بايد د پايلو د لاسته راوړلو او محصلانو د ارزولو لپاره تر ټولو زيات کارول شوي واى.

۳. د OBE پر وړاندې کوم خنډونه وجود لري؟

د OBE د ممانعتونو په برخه کې لومړۍ ستونزه د مناسبو امکاناتو کموالي دی چې (Katawazai, 2021) هم ورته اشاره کړې ده او په خپله څېړنه کې دې پايلې ته رسېدلی ده چې د افغانستان په پوهنتونو کې د زيربنا (درسي ټولګيو) او معلوماتي لوازمو (انټرنيټ) کموالی هغه جدي ستونزې دي چې په پوهنتونو کې يې د OBE د عملي کېدو مخه نيولې ده.

دويمه ستونزه، په ټولګيو کې د محصلينو د شمير زياتوالی دی. د دې څېړنې موندنې ښيي چې يوازي (۵٪) استادان هغو ټولګيو ته تدريس کوي چې د محصلينو شمير يې له (۳۰) تنه څخه کم وي. همدارنګه Jansen (1998) په ټولګيو کې د محصلينو د شمير زياتوالی د OBE د عملي کېدو په برخه کې يو لوی ممانعت ګڼي. مګر پدې وروستيو کې د افغانستان په سطحه پوهنتون ته شاملېدونکو محصلينو شمير کم شوی او دا ستونزه به په راتلونکي کې وجود ونلري.

د OBE د عملي کېدلو په برخه کې درېمه ستونزه، دې سيستم ته د لوړو زده کړو وزارت نه پاملرنه ده. کله، کله ځيني استادان مجبورېږي چې له (۵- ۷) مضامينو پورې په يوه سمستر کې تدريس وکړي او دوی د دې وخت نشي پيدا کولای چې خپل تدرس د OBE له اصولو سره سم عيار کړي. همدارنګه، (Damit et al., 2021) ليکي چې د رهبري له لوري لږ ملاتړ د دې لامل کېږي چې د نوموړي سيستم د عملي کولو په برخه کې ستونزې رامنځته شي.

د OBE د عملي کولو په برخه کې څلورمه ستونزه له دې سيستم سره د استادانو نابلدتيا ده. پدې اړه (Damit et al., 2021) ليکي: استادان چې د دې سيستم اصلي عملي کوونکي دي زياتره يې له دې سيستم سره بلدتيا نه لري. Rao (2020) په خپله څېړنه کې د زده کړه ييزو پايلو اهميت ته اشاره کړې ده او ليکي چې د زده کړه ييزو پايلو تړاو د کورس له زده کړه ييزو پايلو سره او بيا په پورته کې د ليسانس دورې له زده کړه ييزو پايلو سره ډېر مهم دي، مګر د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې يوازي د (۱۰٪) استادانو په کورس پاليسيو کې د زده کړه ييزو پايلو تړاو د کورس له زده کړه ييزو پايلو سره او په پورته کې د ليسانس دورې له زده کړه ييزو پايلو سره په نظر کې نيول شوی دی.

یوه بله لویه ستونزه دا ده چې د لوړو زده کړو وزارت د نمرو ورکولو لایحې د OBE سیستم سره په ټکر کې دي. د کریډیټ سیستم لایحه کې په صراحت سره لیکل شوي چې د محصلانو د ارزولو په وخت کې باید (۸۰٪) نمرې د دوی وروستۍ ازموینې ته ورکړل شي. دې ستونزې ته (Katawazai, 2021) هم په خپله څېړنه کې اشاره کړې ده. هغه د استادانو له قوله لیکي: د لوړو زده کړو وزارت تراوسه پورې په هغو قوانینو او پالیسیو ټینګار کوي چې هغه پر محتوا ولاړ ښوونیز سیستم تقویه کوي. مثلاً، د محصلینو د ارزونې په برخه کې استادان باید (۶۰-۸۰٪) نمرې وروستۍ او منځنۍ ازموینې ته ورکړي، (۱۰٪) د محصلینو حاضرۍ ته ورکړل شي او یوازې (۱۰٪) یې د دوی عملي کار او کورنۍ دندې ته ورکړل شي. دا پدې معنا ده چې له یو طرفه د لوړو زده کړو وزارت پدې ټینګار کوي چې په پوهنتونو کې د OBE سیستم عملي کړي او له بله طرفه د لوړو زده کړو وزارت د نمرو ورکولو لایحه بیا د یاد سیستم له کړنلارو سره په ټکر کې دي.

**پایلې**

د دې څېړنې له موندنو څخه دې پایلې ته رسیږو چې، د پکتیا او پکتیکا پوهنتونو ډېری استادان د OBE ښوونیز سیستم د ټولو عناصرو، اصولو او کړنلارو په اړه مثبت نظر لري او په خپلو پوهنتونو کې یې د یوه ګټور ښوونیز سیستم په حیث قبلوي. ډېری استادان د یاد ښوونیز سیستم ټول عناصر لکه د لرلید او ماموریت لرل، د لیسانس دورې لپاره د مشخصو پایلو درلودل، د هر مضمون لپاره د ځانګړو پایلو درلودل، په تدریس کې په محصل چورلیزو(محصل محوري) زده کړو تمرکز کول او د محصلینو د ارزونې په وخت کې زده کړه ییزو پایلو ته پام کول د محصلینو د ښې زده کړې لامل کڼي او د پوهنتونو د پرمختګ لامل یې بولي.

له بلې خوا، د دې ښوونیز سیستم د عملي کولو په برخه کې تر اوسه پورې ډېری استادان په ټیټه کچه کې قرار لري. د یاد ښوونیز سیستم لومړی اصل پر زده کړه ییزو پایلو تمرکز دی. مګر، ډېری استادان د لیسانس دورې زده کړه ییزې پایلې په پام کې نه نیسي، ډېر کم استادان د لیسانس دورې زده کړه ییزو پایلو او مضمون زده کړه ییزو پایلو ترمنځ تړاو په نظر کې نیسي. زیاتره استادان د مضامینو زده کړه ییزې پایلې په معیاري ډول نه جوړوي. د یاد ښوونیز سیستم له تقاضا سره سم استادان باید په ټولګیو کې محصل محوري تدریسي میتودونه وکاروي، مګر استادان زیاتره وخت استادمحوري میتودونو څخه ګټه اخلي. د محصلینو د ارزولو او نمرو ورکولو په برخه کې ډېری استادان د لوړو زده کړو وزارت لایحې ته په کتو له وسطي او وروستۍ ازموینو څخه کار اخلي. بناءً، یاد ښوونیز سیستم په ډېره ټیټه کچه په پوهنتونو کې تطبیق کېږي.

په پوهنتون کې د مناسبو امکاناتو کموالی، د OBE سیستم ته د لوړو زده کړو وزارت نه پاملرنه، له یاد ښوونیز سیستم سره د استادانو نابلدتیا، د یاد ښوونیز سیستم سره د لوړو زده کړو وزارت د نمرو ورکولولایحې ټکر د درسي میتودونو دودیزوالی او د وزارت له لوري ناسم نظارت هغه خنډونه دي چې په پوهنتونو کې د یاد ښوونیز سیستم د نه عملي کېدو سبب کیږي.

زمونږ د ګران هېواد افغانستان د لوړو زده کړو پیاوړتیا د OBE سیستم په ښه تطبیق پوري تړلې ده. اوسمهال د دې سیستم عملي کول ډېر اسان کار دی ځکه چې د پوهنتونونو استادان د یاد ښوونیز سیستم په اړه مثبت نظر لري. که چېري د لوړو زده کړو وزارت محترم مسؤلین د یاد سیستم پر وړاندي پراته خنډونه له منځه یوسي، دا سیستم په ډېره اساني سره په پوهنتونونو کې عملي کېدای شي. د دې سیستم په تطبیق سره به فارغ التحصیل محصلان په هغو وړتیاوو سمبال شي چې د ټولنې موجوده ستونزو ته د حل لارې پیدا او له نورې نړۍ سره په ښوونیز ډګر کې سیال و اوسي.

## سرچيني


Alimyar, Z. (2020). Outcome-based education training workshops: A study to explore their effectiveness on Afghan EFL instructors' teaching methods. *International Journal of Education and Culture*, *9*(1-2), 18-30.

Akramy, S. A. (2021). IMPLEMENTATION OF OUTCOME-BASED EDUCATION (OBE) IN AFGHAN UNIVERSITIES: LECTURERS' VOICES. *International Journal of Quality in Education, 5*(2), 27-47.

Cohen, L., Manion, L. & Morrison, K. (2012) *Research Methods in Education* London: Routledge.

Creswell, J. W. (2014). Educational research: Planning, conducting, and evaluating qualitativeand qualitative research.

Damit, M. A. A., Omar, M. K., & Puad, M. H. M. (2021). Issues and Challenges of Outcome-based Education (OBE) Implementation among Malaysian Vocational College Teachers. International Journal of Academic Research in Business and Social Sciences, 11(3), 197-211.

Jansen, J. D. (1998). Curriculum reform in South Africa: A critical analysis of outcomes-based education. *Cambridge journal of education*, *28*(3), 321-331.

Katawazai, R. (2021). Implementing outcome-based education and student-centered learning in Afghan public universities: the current practices and challenges. *Heliyon*, *7*(5), e07076.

Killen, R. (2000). *Outcome-based education: Principles and possibilities.* Unpublished manuscript, University of Newcastle, Faculty of Education.

MoHE, 2016. National Higher Education Startegic Plan 1395 -1399 (2016-2020).

Rao, N. J. (2020). Outcome-based education: An outline. *Higher Education for the Future*, *7*(1), 5-21.

Shuaib, N. H., Anuar, A., Singh, R., & Yusoff, M. Z. (2009, November). Implementing continual quality improvement (CQI) process in an outcome-based education (OBE) approach. In *International Conference of Teaching and Learning*.

Spady, W. G. (1994). *Outcome-Based Education: Critical Issues and Answers*. Arling-ton, VA: American Association of School Administration.

Tam, M., 2014. Outcomes-based approach to quality assessment and curriculum improvement in higher education. Qual. Assur. Educ. 22 (2), 158–168.

Tshai, K. Y., Ho, J. H., Yap, E. H., & Ng, H. K. (2014). Outcome-based education–the assessment of programme educational objectives for an engineering undergraduate degree. *Engineering Education*, *9*(1), 74-85.